# د پښتو اوسنۍ الفبا او د هغې فونيميکي نخښې

## Pashtu alphabets and its phonetical symbols

[1] Noor Mohammad Khan [2] Dr. Abdul Rehman Kakar

**ABSTRACT**

The article named as PASHTO ALPHABETS AND THEIR PHONETICAL SYMBOLS contains Alphabets of Pashto language, their general and phonological symbols, their names as given by different linguists and grammarians, Pashto consonants, vowels, semivowels, diphthongs, triphthongs and different clicks used in Pashto. The article tries to give a final shape to different discourses about Pashto Alphabets.

Pukhtunkhwa Journal

[1] Noor Mohammad Khan, PhD scholar of Pashtu literature, University of Bluchistan, Quetta
[2] Dr. Abdul Rehman Kakar, Associate Professor, University of Bluchistan

**طريقه کار**: زما دا تحقيقي هڅه به د معياري تحقيق د اصولو مطابق د لساني تحقيق پر مځکه وي. دلته د پښتو اوسنۍ الفبا مطالعه شوې ده چې د تشريحي ژبپوهنې په لمن کې راځي.د موضوع په اړه موجود مواد تر ډېره حده کتل شوي دي او د هغو شننه شوې ده ، د بېلا بېلو الفاظو تلفظ د بېلا بېلو خلکو له خوا کتل شوی دی او بيا د تحقيق مواد ترې را اخيستل شوي دي.

## الفبا

الفبا چې حروف تهجي ، الفبې او ابېڅې هم ورته وايي، د يوې ژبې د ټولو ږغونو دپاره د ټاکل شويو نخښو ،علامتونو ټولګه وي. په يوې ژبې کې کارېدونکي هر هر ږغ ته يو يو علامت ټاکل شوی وي چې حرف يا توری بلل کېږي. او د تورو دا ټولګه الفبا بلل کېږي.

> "An **alphabet** is a set of written symbols, each one representing a single type of sound or phoneme." (George Yule, page242)(1)

د پښتو اوسنۍ الفبا له عربي څخه اخيستل شوې ده ، له پښتو سره سره د پښتو څنګلورې ژبې پارسي او اردو هم د عربي ليکدود کاروي ، خو کوم ږغونه چې په عربي کې نشته د هغو دپاره يې ځانته علامتونه د عربي په تورو کې په يو څه رد و بدل ټاکلي دي. او دغه رد و بدل په مختلفه وختو کې د بېلا بېلو کسانو له خوا په بېلا بېلو بڼو شوی دی .

دلته به موږ اوسنۍ الفبا ګورو چې په څه ترتيب ، په کوم نوم او په کومه نحښه يې د ږغ استازيتوب کېږي . بېلا بېلو ليکوالانو په بېلا بېل ترتيب ، نوم او کله په بېلا بېلو فونيميکي نخښو ښوولي دي. لومړی هغه ټولې الفبې ليکو چې دا وخت تقريباً مروج دي.

**ا ، ب، پ، ت، ټ ،ث ، ج، ځ، چ،څ، ح، خ، د ، ډ ،ذ ، ر ،ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، ص، ض، ط، ظ، ع، غ، ف، ق، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و، ه، ي، ې ، ی (ے )، ۍ، ئ.**

په دې لاندیني جدول کې د پښتو الفبې ، صحیح حروف، حروف علت او حرکتونه ټول ځای شوي دي ، او هغوته ټاکل شوې IPA بڼې چې پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار په خپل کتاب ، (لیکلار ښود یوه پښتو کره پښتو)(۲)، پوهاند محمد صابر خویشکي په خپل کتاب ، (پښتو غږ پوهنه او وییپوهنه)(۳) او دوکتور عبدالحکیم هلالي په خپل کتاب ،(د پښتو ژبې د فونیمیکي الفبې لارښود )(۴) کې کښلي دي ، راوړل شوي دي.

| نمبرشمار | توري | ليکبڼه | | | IPA بڼه | | | ټکي | نوم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پيل | منځ | پای | زيار | خويشکي | شېرين سنګري | | |
| ۱ | ا | ا | ـا | ـ | a | a | α | اختر | بېواک الف |
| ۲ | آ | آ | ـ | ـ | ā | ā̦ â | ᾱ | آخرت | الف‌مد |
| ۳ | ب | بـ | ـبـ | ـب | ɓ | ɓ | ɓ | بل | بې |
| ۴ | پ | پـ | ـپـ | ـپ | p | p | p | پل | پې |
| ۵ | ت | تـ | ـتـ | ـت | t | ţ | t | تل | تې |
| ۶ | ټ | ټـ | ـټـ | ـټ | ṭ | t | ṭ | غټ | ټې |
| ۷ | ث | ثـ | ـثـ | ـث | θ | θ | S | اثر | ثې |
| ۸ | ج | جـ | ـجـ | ـج | ǰ | j | ǰ | جار | جیم |
| ۹ | ځ | ځـ | ـځـ | ـځ | j | ĵ | j | ځار | ځیم |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| چي | چا | č | č | č | ـچ | ـچـ | چـ | چ | ۱۰ |
| څي | څو | C | C | C | ـڅ | ـڅـ | څـ | څ | ۱۱ |
| حي | حل | ẖ | H | ḥ | ـح | ـحـ | حـ | ح | ۱۲ |
| خي | يخ | X | X | X | ـخ | ـخـ | خـ | خ | ۱۳ |
| دال | دار | d | d | d | ـد | ـد | د | د | ۱۴ |
| ډال | ګډ | ḍ | d | ḍ | ـډ | ـډ | ډ | ډ | ۱۵ |
| ذال | ذوق | Z | Z | δ | ـذ | ـذ | ذ | ذ | ۱۶ |
| ري | روڼ | r | r | r | ـر | ـر | ر | ر | ۱۷ |
| ړي | ړوند | ṛ | r̦ | ṛ | ـړ | ـړ | ړ | ړ | ۱۸ |
| زي | زوی | Z | z | z | ـز | ـز | ز | ز | ۱۹ |
| ژي | ژوند | ž | ž | ž | ـژ | ـژ | ژ | ژ | ۲۰ |
| ږي | ږيره | ẓ | z | ẓ̌، ğ | ـږ | ـږ | ږ | ږ | ۲۱ |
| سين | سر | S | s | s | ـس | ـسـ | سـ | س | ۲۲ |
| شين | شعر | š | ŝ | š | ـش | ـشـ | شـ | ش | ۲۳ |
| ښين | ښار | Ṣ | Ş | ṣ̌، x̌ | ـښ | ـښـ | ښـ | ښ | ۲۴ |
| صاد | صبر | S | s | S̱ | ـص | ـصـ | صـ | ص | ۲۵ |
| ضاد | ضرر | Z | Z | z | ـض | ـضـ | ضـ | ض | ۲۶ |
| طوا | طول | t | t | t̰ | ـط | ـطـ | طـ | ط | ۲۷ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ظوا | ظاهر | Z | z | z̧ | ـظ | ـظـ | ظـ | ظ | ۲۸ |
| عين | عقل | ʕ | s | ʕ | ـع | ـعـ | عـ | ع | ۲۹ |
| غين | غوټه | Ɣ ğ | ğ | Ɣ | ـغ | ـغـ | غـ | غ | ۳۰ |
| في | فضل | f | F | f | ـف | ـفـ | فـ | ف | ۳۱ |
| قاف | قول | q | ĝ | q | ـق | ـقـ | قـ | ق | ۳۲ |
| کاف | کار | K | k | k | ـک | ـکـ | کـ | ک | ۳۳ |
| ګاف | ګار | g | ǵ | g | ـګ | ـګـ | ګـ | ګ | ۳۴ |
| لام | لمن | ɩ | l | l | ـل | ـلـ | لـ | ل | ۳۵ |
| ميم | مور | m | M | m | ـم | ـمـ | مـ | م | ۳۶ |
| نون | نور | n | N | n | ـن | ـنـ | نـ | ن | ۳۷ |
| نوڼ | رڼا | ṇ | ṇ | ṇ | ـڼ | ـڼـ | ڼـ | ڼ | ۳۸ |
| بېواک واو | وطن | w | W | W | ـو | ـو | و | و | ۳۹ |
| هې | هلک | h | Ħ | h | ـه | ـهـ | هـ | ه | ۴۰ |
| بېواکه يې | يون | y | y | - | ـي | ـيـ | يـ | ي | ۴۱ |
| نرمه يې | خير سړی | ay | āy | ay | ـی | ـیـ ـیـ | – | ی | ۴۲ |
| ښځينه يې | نجلۍ | əy | əy،ay | əy | ـۍ | - | – | ۍ | ۴۳ |

Pukhtunkhwa Journal

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۴ | ئ | - | - | ئ | əy | - | - | راځئ | امریه یې |
| ۴۵ | ا | ا. | ـا. | ـا. | ā | a | ɑ̄ | بابا | الف |
| ۴۶ | و | - | ـو. | ـو | u | ū | ū | سور | ځرګند واو |
| ۴۷ | و | - | ـو. | ـو | o | O | O | شپول | مجهول واو |
| ۴۸ | ي | - | ـيـ | ـي | i | Í | i | پیر | ځرګنده یې |
| ۴۹ | ې | - | ـېـ | ـې | e | e | e | ډېر | اوږده یې |
| ۵۰ | زور | اَ | - | ه | a | a | α | اَختَه | زور |
| ۵۱ | زورکی | - | - | ۀ | ə | ə | ə | چارۀ | زورکی |
| ۵۲ | پیش | اُ | . | . | - | - | u | دُکان | پیش |
| ۵۳ | زیر | اِ | . | . | . | . | ɪ | ظاهِر | زیر |
| ۵۴ | خج | . | . | . | (´) | . | - | غو´ته | خج |

**خپلواک او نیمواک**

خپلواک ږغونه هغه ږغونه دي چې د دوی په مرسته اصلي ( بېواک) ږغونه حرکت کوي، د خپلواک ږغو د ادایګي پر وخت د پرپوس ځخه را وتلې هوا په مخ کې د شونډو، ژبې لا نورو ږغیزو غړو له خوا هیڅ خنډ و بندیز نه وي. خپلواک ږغونو ته حروف علت او کومکي ږغونه هم وایي.

" Vowel sounds are produced with a relatively free flow of air." (George yule,page 34)(۵)

نیمواک ږغونه هغه ږغونه دي چې کله د بېواک (consonant) او کله د خپلواک (vowel) کردار ادا کوي چې په پښتو کې درې دي ، (ا ، و ، ی).

د پښتو ، اردو او پارسي درې سروو ژبو الفبې له عربي څخه اخیستل شوې دي . (ا ، و ، ي) د عربي حروف علت چې په پښتو کې یې هم مورږ د علت د تورو په بله مانا د خپلواک ږغونو په توګه پېژنو خو د دا درې سروو په فطرت کې یو شی مشترک دی چې دوی هم اصلي ږغونو ته حرکت ورکوي ، د صحیح حروفو ږغ پورته ، کښته او کښوي او هم پخپله حرکت قبلوي . د دې درې واړو فطرت داسې دی چې هم خپلواک دي او هم د بېواک کردار لوبولی شي. که چېرې پر دوی بل حرکت راشي بیا دوی د بېواک/صحیح حروفو کردار ادا کوي .

"افل،واو،ي؛ان‌نیترحوف‌وک "رحوف‌ت‌لع"اہکاجات‌ےہ۔ابیقرحف "رحوف‌حیحص"الہکےت‌ںیہ۔ اس‌ےلسلس
نیم‌ہی‌ابت‌ودلمظرانہ‌اچ‌ےیہ‌ہکان‌ونیتں‌رحوف‌ےکرکدارنیم "درہان‌پ"اپاجات‌ےہ،اوروہ‌اس‌رطح‌ہکب‌ج‌ہی‌ردتمک‌وہ‌ےت
نیہ،اس‌وتق "رحوف‌حیحص"ی‌کرطح‌رحاکت)زرب،زری،ش‌یپ(وکوبقل‌رکےت‌ںیہ،اورہی‌ان‌ےکرکداراکا‌کی‌رخ‌وہات‌ےہ،
ےسیج:اب،ون‌ط،م‌ی۔ان‌وظفلں‌یم‌افل،واو،ي‌اکویہ‌ل‌مع‌ےہ‌وج‌دورسے‌رحوف‌اکوہات‌ےہ۔اہں،ب‌ج‌ہی‌اسنکوہں‌ےگ،بت‌ان‌ےکرکداراکدورسا
رخ‌امنایں‌وہاگ‌اورا‌س‌وصرت‌ںیم‌ہی "رحوف‌ت‌لع"وہں‌ےگ‌ــــےسیج:ژبا،وبٹ،ٹیب۔")ردیش
نسحاخن،۳۴مخم()۶(

د الف ، واو او ي، دغه غبرګ کردار په پښتو کې هم شته چې له کبله یې ژبپوهانو د نیمواک په نامه نومولي دي ،ځکه یې کله په نومونو کې او کله بیا په فونیمیک نخښه کې ګډوډي رامنځ ته شي . مورږ به خپله خبره په بېلګې سره واضح کړو .

● ا ، / a / ، بېواک / نیمواک الف، پښتو کې الف په هغه صورت کې بې واک شي چې کله ورباندې زور، زبر ، پېش، زورکی راشي یا کله په واو او ي حرکت ورکول شي . په پښتو کې بې واک الف د کلیمو په پیل کې راځي ،د بېلګې په توګه دا کلیمې وګورئ؛

اَختر، اَتل ، اَتڼ (الف باندې زبر دی) ، اِبتدا او اِنتها (الف باندې زېر دی)

اُرمړ (پر الف پیش دی) ، اوږد (د الف ږغ په څرګند واو کښې شوی دی)

اپل (د الف ږغ په اوږده یې کښته شوی دی)

● ا، /ā/ الف، د بېواک تورو ږغونه د دوو زورو هومره پورته کوي، خپلواک الف دی.

بابا (د بې ږغ په خپلواک الف د دوو زورو هومره پورته شوی دی).

● آ، / ā/ ، الف مد، دا په پښتو کې نشته خو په عربي الفاظو کې چې پښتو نه وي مفغن کړي، لیکل کېږي .دغه ږغ پښتانه نه وایي . الف مد په عربي کې د دوو الفو هومره ږغ پورته کوي چې په پښتو کې یې هیڅ مثال نه شته . په لفظ (قرآن) کې پښتانه د (ر) ږغ هغو مره پورته کوي څومره چې په لفظ (بابا) کې د (ب) ږغ پورته کوي. یوه تېروتنه زموږ له ژبپوهانو شوې ده چې خپلواک الف ، چې د دوه زوره برابر دی ، او الف مد چې د دوو الفو برابر دی ، دواړو ته یې یوه فونیمیکي نخښه / ā / ټاکلې ده . او بېواک الف چې د صحیح حرف کردار لوبوي ، او زور چې حرکت دی ، دواړو ته یې یوه نخښه ټاکلې ده /a/ چې سمه نه ده ، زور ځان ته جلا نخښه لري.

● زور ، /ʌ/ ، د (الف) نیمی هومره د بېواکو ږغونه پورته کوي . لکه

بر (د ب ږغ په زور پورته شوی دی)

● زورکی، /ə/ د (زور) نیمی ، ځینې پښتانه یې نه شي ویلی . د بېواکو ږغونه د (زور) د نیمې برابر پورته کوي ، لکه

ستنه (د ت ږغ په زورکي پورته شوی دی)

● و، /W/ بېواک/نیمواک واو، په پښتو کې چې کله پر واو یو بل حرکت راشي نو دی بې واک شي ، د کلیمې په پای کې بې واک واو ساکن وي. بېلګې:

وَطن (پر واو زور دی) ، وږی (پر واو زورکی دی ، د نهار په مانا) ، پلو (واو ساکن دی)

واو چې کله د نورو تورو ږغونو له حرکت ورکوي بیا دی د خپلواک کردار لوبوي او په پښتو کې له موږ سره دوه خپلواک واوونه دي. معروف واو او مجهول واو .

● و، / **ū/** معروف واو ، ځرګند واو ، د انګلیسي د (oo) برابر د تورو ږغونو کښوي ، ځینې پښتانه د ځرګند واو ږغ د پېش رنګه وايي. بېلګې يې دي

لور (loor) ، ( د لام ږغ په ځرګند واو کښ شوی دی، د دختر په مانا ) ، سور (soor) ، ( د س ږغ په معروف / ځرګند واو کښ شوی دی. ځینې پښتانه معروف واو او پېښ یو رنګه وايي. سور (رنګ او سُر ( د موسیقي) یو رنګه وايي.

● و، / ° /، مجهول واو، د انګلش د **(o)** برابر د تورو ږغ کښوي. بېلګې يې دي

لور، (lor) ( د لام ږغ په مجهول واو کښ شوی دی ) د خوا او طرف په مانا .

مور ،(mor ) ( د میم ږغ په مجهول واو کښ شوی دی).

● پېش، **/ʊ/** پېش د (واو) نیمی برابر د بېواکو ږغونه کښوي، لکه

دکان ( د دال ږغ په پېش کښ شوی دی).

● ي، **/j/** بېواک يې، په پښتو کې چې کله پر (ي) یو حرکت راشي نو بیا دا د صحیح حرف کردار ادا کوي ، بې واکه يې په دوو پرتو ټکو لیکل کېږي ، چې د ځرګندې يې (ي) سره ورته ده ، د کلیمو په پیل او منځ کې راځي . مثالونه يې دي ؛

یو (پر ي زور راغلی دی )، یون ( ي ته په ځرګند واو حرکت ورکول شوی دی) ، مین ( پ ي زور دی ).

خو چې کله ( ي ) د نورو تورو ږغونو ته حرکت ورکوي بیا په پښتو کې په دوه صورته وي یو صورت يې ځرګنده يې (ي) او بل يې اوږده يې (ې) ده .لکه

● ي، / **i** / ، ځرګنده/ معروفه يې، د تورو ږغ د انګرېزي د (ee) برابر کښنته کوي . لکه

پیر (peer)، (د پ ږغ په ي کښنته شوی دی)، میر (meer) ، (د میم ږغ په ي کښنته شوی دی).

● ې، **/æ/**، اوږده يې، د تورو ږغ د انګرېزي د(e) برابر کښنته کوي . لکه

ډېر (der)، ( د ډال ږغ په ې کښته شوی دی)، سېب (seb) ( د س ږغ په ې کښته شوی دی). دغه ږغ په انګرېزي کې /ei/ غبرګ ږغ دی ، خو په پښتو کې دا غبرګ نه دی .

●زېر، /ɪ/ زېر اکثره په پردیو لغاتو کې وي، د پښتو په خپلو لغاتو کې ډېر کم تر سترګو کېږي. د ښواکو ږغونه د (ي) نیمی برابر کښته کوي. لکه

ظاهر ( د ، ه ږغ په زېر کښته شوی دی).

●د انګلش د /e/ واول هم په پښتو کې شته خو ځینې پښتانه یې نه شي ویلای. لکه

ژیړ / / ،نیت / / ، بیرته / /، چیرته / / ، تیک / /

خج / / هم په پښتو کې د تکیو مانا اړوي. پښتو یوه داسې ژبه ده چې خج یا د کلمې پر یوه برخه زور پکې ډېر اهم دی . غوټه ، لومړی سېلاب که خجن وویل شي نو د تړلو په مانا ، او که خج پر دویم سېلاب شي د حملې په مانا. د پښتو زیات حرکت زورکی هم پر زور د خج د راتلو له کبله منځ ته راغلی دی و ولې چې په عروضو کې د زورکي سېلابونه ټول درانه حسابل کېږي.خو د خج ستونزه د لیک په صورت کې لا تر اوسه نه ده حل شوې ، هو لوستونکی کولی شي چې د جملې له سیاقه په خج او ښتونکې مانا وسنجوي .

نوټ: دغه ټکي چې ما دلته په مثالونو کې ورکړي دي ، د دوی ریسیوډ پروناونسیېشن (R.P) ما د پښتو اکېډمی کوټې د پښتو زدکړې د لوستونکو څخه اخیستې دی ، چې پکې د ډېرو بېلا بېلو لهجو ویونکي وو، ما هڅه کړې ده چې د دې الفاظو تلفظ د ټولو لهجو زده کړم او سره پرتله یې کړم چې زما دا څېړنه د هرې لهجې ویونکیو ته د منلو وړ وګرځي خو نه پوهېږم چې تر کومه حده بریالی شوی یم.

## ډیفتونګونه

ډیفتونګ په هره ژبه کې هغه ږغ ته وایي چې کله یو ښواک ږغ ته په دوه بېل مزاج خپلواکو یا یو خپلواک او بل نیمواک (ا ،و ،ي) حرکت ورکړل شي ، یو حرکت ختم شوی نه وي بل ورګډ شي نو ډیفتونګ جوړوي. چې په پښتو کې مجاور احمد زیار په غبرګغږونو نومولي دي او تعریف یې داسې کړی دی؛

"پښتو غبرګغږونه د خپلواکو او نیمواکو اوازونو له پرله پسېوالي او یو ځایوالي څخه منځته راځي"(مجاور احمد زیار، ۳۴م مخ)(۷)

په پښتو کې غبرګ ږغونه دغسې دي

۱: / **aī**/ ؛ د (الف) /ā/ او (ی) / **i** / غبرګ ږغ، ځای، خدای، پای

۲: /**ʊī**/؛ د (معروف واو) / **ū** / او (ی) / **i** / غبرګ ږغ، دوی، هغوی

۳: /**oi**/؛ د (مجهول واو) /°/ او (ی) / **i** / غبرګ ږغ، زوی، توی، لوی

۴: /**ʌɪ**/؛ د (زور) /**ʌ**/ او (ی) / **i** / غبرګ ږغ، سړی، غمی، پاولی.

په پښتو الفبا کې یې د (الف)، (واو) او (زور) غبرګ ږغ ته، چې د (ی) سره راځي، علامت نرمه یې (ی) ټاکلې ده.

۵: / **i** ə /؛ د (زورکي) /ə/ او (ی) / **i** / غبرګ ږغ، نجلۍ، کږدۍ، خاندئ، ځئ.

په پښتو الفبا کې یې د (زورکي) او (ی) غبرګ ږغ ته دوه علامته ټاکلي دي، د نوم په صورت کې (ۍ) او د فعل په صورت کې (ئ).

۶: /**əʊ**/؛ د (زورکي) /ə/ او (واو) /w/ غبرګ ږغ، کټو، بړو، پړو

۷: /**ʌw**/؛ د (زور) /ʌ/ او (واو) /w/ غبرګ ږغ، پلو، کنډو

۸: /**ɪw**/ ؛ د (ی) / **i** / او (واو) /w/ غبرګ ږغ، تریو، جیو

۹: /**aw**/ ؛ د (الف) / / او (واو) /w/ غبرګ ږغ، پاو، تاو

۱۰: /**æw**/؛ د (ې) /æ/ او (واو) /w/ غبرګ ږغ، سېو، نېو،

سېو (سېب / مڼه، په پښتو کې کله کله [ب] پر [واو] اوړي)

نېو (چرګه نېو نه کوي، ځغلي)

۱۱: /**wā**/ ؛ د (واو) /w/ او (الف) /ā/ غبرګ ږغ، پخوا، خوار، سوان، ځوان

Pukhtunkhwa Journal

د پارسي او اردو (معدوله واو) چې په ليکلو کې شته خو په ويلو کې نشته، تر شا (خ) او تر مخ (الف) ولري نو هغه واو په فارسي او اردو کې معدوله شي مګر په پښتو کې دا (واو) ويل کېږي او په پورتني صورت کې له الف سره غبرګږغ جوړوي.

۱۲: /ɪā/ د (ی) /i/ او د (الف) /ā/ غبرګږغ، نيا، اتيا، ربنتيا، (ليار، ولياړ، دا لهجوي ټکي دي)

## ټريفتونګونه

کله چې درې خپلواک په يو ټکي کې پرله پسې راشي نو هغه بيا ټريفتونګونه جوړوي. تر يوه غبرګږغ له مخه يا له هغه پس که يو بل خپلواک راشي نو ټريفتونګ جوړوي.

“ when diphthongs are composed with one more vowel , the result is the formation of triphthongs.” (open.books4languages.com)(۸)

په پښتو کې ټريفتونګ په هغه صورت کې جوړېږي چې کله په يوه خپلواک ږغ يو سېلاب ختم شي او ورپسې په يو بل خپلواک يا نيمواک بل سېلاب پيل شي. کله دوه نيمواک او دوه خپلواک يو ټريفتونګ جوړ کړي. په پښتو کې دغه يو ټريفتونګ شته او نور هم دغسې الفاظ چې ټريفتونګ ته ورته دي خو د نيمواکو د ډېري او د خپلواکو د کمي له کبله د ټريفتونګ حکم نه شي پرې کېدای، دغسې دی. ممکنه ده نور هم وي. په راتلونکي کې به څېړونکي کېدای شي نور هم رابرسېره کړي.

۱: /əɪw/؛ د (زورکي) /ə/ (ی) /ɪ/ او (واو) /w/ ټريفتونګونه، چې د جمع مونث (ښځينه) نومونو جمع مذکر (نرينه) نومونو په اوښتي حالت کې راځي لکه کړديو، سړيو، خپلويو

له دې پرته په پښتو کې داسې الفاظ هم شته چې څلور نيمواک او خپلواک سره يو ځای شوي دي پکې لکه،

يوولس (ی + زور + واو نيمواک + مجهول واو)

اووه(الف نیمواک+ معروف واو+ واو نیمواک+ زورکی)

یویشت (ي نیمواک+ زور+ واو نیمواک+ زېر)

دوه ویشت (واو نیمواک+ زور+ واو نیمواک+ زېر)

واوره (واو نیمواک+ الف+ واو نیمواک)

واوښت (واو نیمواک+ الف+ واو نیمواک)

**کلیکونه**

کلیک د اظهار هغه فوري او مختصره نمونه ده چې د نړۍ له ډېرو ژبو سره سره په پښتو ژبه کې هم شته . د کلیک ادایګي داسې وي چې په خولې کې د وړې شان چاودنې غوندې بږغ صادره شي. بې فونیټیکي بڼې یې موږ په خپله الفبا کې نه شو څرګندولی.

پښتو په الفبا کې کلیک کانسوننټ (چې په خولې کې د هوا د فشار او یو دم ایله کېدو له کبله د وړې چاودنې رنګه ویل کېږي) نه لري نو ځکه موږ ورته کلیکي ژبه نه شو ویلای خو په روزمره کې په پښتو کې د کلیکونو استعمال ، خصوصاً په کندهارۍ لهجه کې ، شته ، احمد ولي اڅکزي(۹) پر دې یو څه کار کړی دی او د کندهار د سیمې کلیکونه یې ښوولي دي .چې څه داسې دي

۱:/KI͡ KI͡ / د تاسف ، افسوس یا غم د اظهار کولو کلیک .د شونډو حالت لکه د پیش دایروي وي.

۲: /aˉKI͡/ د ماشومانو دپاره د خوندور ، خوارږه شي په مانا کلیک.شونډې د دایرې په صورت کې وي خو په پای کې ورسره آهم ووایي.

۳: /KÍ / د تېروتنې او پښېمانۍ کلیک. شونډې ټولې وي لکه په پیش کې.

۴: /KÍ /د انکار ، نفي ، نه ، یا کلیک.شونډې ویړې وي لکه په زبر کې.

۵: /KO/ د ښکلولو ، مچو کلیک.

۶: /KO KO/ د حیواناتو د رابللو کلیک.

۷: /K͡I K͡I K͡I/ بوده ته د پرمخ تللو د امر کولو کلیک. شونډې د زبر پر حالت وي

۸: / /د هو ، اقرار کلیک. د ساه په کښنولو خخخ ویل.

د ولي اڅکزي له دې کلیکونو علاوه درې کلیکه نور دي چې په پښتو کې زما مخې ته راغلي دي ، څه داسې دي

۱: /ʘʘ/ د چرګې د بچیو د رابللو کلیک

۲: /K͡I K͡I K͡I/ د سپي د را بللو کلیک. شونډې د پیش دریځ لري.

۳: /ǀʘ/ د هو یو بل کلیک.شونډې د زبر دریځ لري.

## بېواک ږغونه

بېواک یا اصلي ږغونه د یوې ژبې هغه ږغونه دي چې د ادایګي دپاره د خپلواک ږغونو محتاجه وي او د ادایګي پر وخت یې د هوا و مخ ته د شونډو ، ژبې یا نورو صوتي غړو له خوا څه نا څه خنډ وي؛

"consonants are the speech sounds during the production of which the airstream through the vocal tract is obstructed in some way, either partially or totally."(amjad Hussain nassir, page 74)(۱۰)

د پښتو کانسوننټونه چې دلته یې موږ نوم ، الفبایي نخښه او فونیمیکي نخښه راوړې ده .

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ب | پ | ت | ټ | ج | ځ | چ | څ | خ |
| الف | بې | پې | تې | ټې | جیم | ځیم | چې | څې | خې |
| /a/ | /b/ | /p/ | /t̬/ | /t/ | /ʤ/ | /ʣ/ | /ʧ/ | /ʦ/ | /x/ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ښ | ش | س | ږ | ژ | ز | ړ | ر | ډ | د |
| ښين | شين | سين | ږي | ژي | زي | ړي | ري | ډال | دال |
| /χ/ | /ʃ/ | /s/ | /ʒʲ/ | /ʒ/ | /z/ | /ɽ/ | /ɾ/ | /d/ | /d̪/ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ي | ه | و | ڼ | ن | م | ل | ګ | ک | غ |
| يې | هې | واو | نوڼ | نون | ميم | لام | ګاف | کاف | غين |
| /j/ | /ɦ/ | /ʷ/ | /ɽ̃/ | /n/ | /m/ | /l/ | /g/ | /ĸ/ | /ʁ/ |

دعربي لس ږغونه چې په پښتو کې يې موږ کاروو

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ق | ف | ع | ظ | ط | ض | ص | ذ | ح | ث |
| قاف | في | عين | ظا | طا | ضاد | صاد | ذال | حي | ثي |
| /kˤ/ | /f/ | /ʕ/ | /zˤ/ | /tˤ/ | /dˤ/ | /sˤ/ | /ð/ | /ħ/ | /θ/ |

له دي پورتنيو بېواکو سره سره په پښتو کې درې بېواکه نور هم شته چې د ن/n/ په ګډون جوړېږي يا ورته د ن/n/ کلسترونه هم ويلای شو. نګ/ɳ/، ند /nd̪/او نډ /nd/.

تاسې کولئ شئ د اکسفورډ ډکشنرۍ OXFORD ELEMENTARY LEARNER'S DICTIONARY BY ANGELA CRAWLEY(11) او د دې لاندنيو لنکونو څخه د غه ږغونه وپېژنئ.

http://youtu.be/OGYGDQgeh2c (12)

http://youtu.be/ctOtJIUMBaw (13)

http://youtu.be/NVNf1Du3U5g (14)

http://youtu.be/LMF3bZh0aZo (15)

http://youtu.be/WU7p-RptAfl (16)

## پایله

په پښتو کې ټول ۳۰ بېواک (چې درې نیمواک دي) د پښتو خپل دي، ۱۰ د عربي څخه اخیستل شوي، ۱۰ خپلواک بږغونه دي. ۱۲ ډیفتونګونه دي. یو ټریفتونګ د (زورکي) (ی) او (واو) او یوولس کلیکونو دي. دلته د پښتو ټولو بږغونو ته د نړیوال فونیمیک معیار مطابق نخښې ټاکل شوې دي.

Pukhtunkhwa Journal

## حواله جات

**1:** George Yule, The Study of Language, sixth edition, page242

۲: زیار،ډاکټر،مجاوراحمد،لیکلاربنودیوه‌پښتوکره‌پښتو،۲۰۰۷م،دانش‌خپروندویه‌ټولنه‌پېښور،

۳: خوبشکي، پوهاند، محمد صابر، پښتو غږپوهنه او وییپوهنه فونولوژي–مورفولوژي،۲۰۱۸م،
مومند خپروندویه‌ټولنه‌ننګرهار

۴: هلالي،څېړنوال،دوکتورعبداحکیم،دپښتودفونیمیکي‌الفبې‌لاربنود،۱۳۵۵ه‌ش،پښتوټولنه‌دژبپوهنې‌څانګه

5: George Yule, The Study of Language, sixth edition, page34

۶:ن‌سح‌اخن،ردیش،اردو اللم،2015ء،زریبس‌کبالوہر، 43ص

۷: زیار،دوکتور،پوهاند،مجاوراحمد،پښتوپښنویه،دویم‌چاپ،۲۰۰۳م،دانش‌خپروندویه‌ټولنه‌پېښور،۳۴مخ

8:http://open.books4languages.com/english-b1-orthography/chapter/triphthongs/#˜:text=Triphthongs%20are%20vowel%20sounds,written%20somewhere%20in%20the%20clustering.

9:http://www.ahmadwali.achakzai.com/index.php/84-weblog-category/politics/785

10: Nassir, Amjad Hussain, Pashto Phonetics ( A Description of the vowels and consonants of the Standard Pashto), page 74

11: Angela Crawley, OXFORD elementary learner's English-urdu dictionary, Oxford University Press

12: http://youtu.be/OGYGDQgeh2c

13: http://youtu.be/ctOtJIUMBaw

14: http://youtu.be/NVNf1Du3U5g

15: http://youtu.be/LMF3bZh0aZo

16: http://youtu.be/WU7p-RptAfl

Pukhtunkhwa Journal